آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۶/۲۰

# چاودیدلی مې زړګی دی

موږه جنګ کې زيږيدلي

موږه جنګ کې لوبيدلي

موږ جګړه ده اوريدلي

موږ جګړه ده بيا لوستلي

موږ جګړه ده خپله کړې

اوس د جنګ جغرافيه کې

سر ګردان او لاس تر زنې

خپله نه لرو خبره

تل له بل نه اوريدلي

موږه لنډه وه نيولي

اوس تر لرې رسيدلي

خپله نه لرو خبره

بس له نورو اوريدلي

نور څه نه شته بس جګړه ده

دا زموږ له نا پوهی نه

جهالت نه ده راغلي

او له بل را رسيدلي

موږ د جنګ جغرافيه کې

زيږيدلي او تم شوي

اوس د جنګ جغرافيه کې

بل څه نه شته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنګ ده، وینه او مرګی دی

چاودیدلی مې زړګی دی

۲۰۱۷/۰۶/۰۵

هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ